د سلسلهٔ عاليه قادريه رضويه عطاريه د عظيم بُزرگ حضرت سَري سَقَطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرامين

# د حضرت سری سقطی رحمۃ اللہ علیہ ارشادات

پښتو

- د يو بُزرگ نصيحت
- خوي ئې پوليس راپريښودو (حکايت)
- هره ورځ زر رکعته نفل (حکايت)
- د حضرت سَري سقطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارشادات

پيشکش:
مجلس المدينة العلميه (دعوت اسلامی)
ترجمو:
ټرانسليشن ډيپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ارشادات

**دُعائے عطّار**: يا رَبِّ مصطفٰے ! څوک چې دا رساله په نوم "د حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ارشادات" اولولي که واوري، هغه د بدې خاتمې نه بچ کړې او د هغه، د هغه د مور پلار ټول خاندان بے حسابه بخښنه نصيب کړې-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

حضرت ابو المُظَفّر محمد بن عبد الله خَيّام سمر قندي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: زما نه يوه ورځ لاره هيره شوه، ناڅاپه يو صاحب په نظر راغلے او هغوئي اووئيل: "زما سره راځه-" زه د هغه سره روان شوم- زما ګمان شو چې دا حضرت خِضَر عَلَيْهِ السَّلَام دے- زما په پوښتنه باندې هغوئي خپل نوم خِضر اوښودلو، د هغوئي سره يو بَل بزرګ هم وو، ما چې د هغوئي نوم معلوم کړو نو هغوئي اوفرمائيل: دا اِلياس (عَلَيْهِ السَّلَام) دے- ما عرض اوکړو: الله پاک دې په تاسو باندې رحمت اوفرمائي، آيا تاسو دواړو حضراتو د نبيِ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت کړے دے؟ هغوئي اوفرمائيل: آو- ما عرض اوکړو: د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلے شوے ارشادِ پاک راته اووائئ د پاره د دې چې ستاسو نه ئې روايت کړم- هغوئي اوفرمائيل چې مونږ د رسولِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي چې کوم ګس په ما باندې درودِ پاک اولولي د هغه زړه د نفاق نه داسې پاک کړے شي لکه څنګه چې په اوبو باندې کپړه پاکولے شي- کوم ګس چې "**صلّي اللهُ عَلٰی مُحَمّد**" لولي نو هغه په ځان باندې د رحمت 70 دروازې برسيره کوي-

(القول البديع، ص: 277، جذب القلوب، ص: 235)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د يو بُزرګ نصيحت

حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: ما تر څلويښتو کالو پورې الله پاک ته دا سوال کولو چې هغه ما ته خپل

څوک کامل ولي اوښائي، اے کاش! زه د هغه د رښتوني عاشق لږ دیدن اوکړم، یو ځل زه د "لُکام" په غرونو کښې ووم، هلته مې په یو ځائے کښې راجمع شوي ډیر مریضان اولیدل- ما د هغوئي نه پوښتنه اوکړه: "تاسو دلته ولې راجمع شوي ئیئ؟" هغوئي اووئیل: "په میاشت کښې یو ځل دلته د الله پاک یو نیک بنده راځي، هغه زمونږ په شان د مریضانو د پاره دعا کوي او د هغوئي د دعا په برکت باندې مریضان فوراً ښه کیږي، نن د هغوئي د راتللو ورځ ده، بس هغه راتلونکے دے، اوس لا مونږ دا خبرې کولې چې د یو نوراني مخ والا کَس زمونږ خوا له راغلے، بیا هغوئي څه اولوستل او په ټولو مریضانو باندې ئې دم کړل- فوراً ټول مریضان ښه شول بیا هغه نیک انسان پاڅیدو د هغه ځائے نه روانیدو نو زه هم په هغوئي پسې ور روان شوم او عرض مې اوکړو: "اے د الله پاک نیک بنده! د لږ وخت د پاره اودریږئ، زه ستاسو سره یو څو خبرې کول غواړم-"

هغه زما په لور متوجه شو او اوئې وئیل: "اے سَري سَقَطِي! د الله پاک نه علاوه د بَل چا په لور مهٔ متوجه کیږه، هر وخت هم د هغه په یاد کښې مصروفه اوسه، د بل چا نه هډو طمع مه لره، ګنې نو خطره ده چې هسې نه ته د هغه په بارګاه کښې قبول نکړے شې- ځکه د هغه نه علاوه د بَل چا په لور مهٔ متوجه کیږه، د دومره وئیلو نه پس چې هغه د کوم اړخ نه راغلے وو هغه اړخ ته لاړے-

(عیون الحکایات، ص: 201)

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشقانِ اولیاء! حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْه ته هغه بزرګ څومره ښکلے نصیحت اوفرمائیلو چې د الله پاک نه علاوه د بَل چا په لور مه متوجه کیږه او هر وخت د هغه په یاد کښې مشغول اوسه ګنې د هغه په بارګاه کښې به قبول نکړے شې-

## د حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللہِ عَلَیْه پیژندګلو

شیخ الاسلام ابو الحَسَن حضرت سَري بن مُغَلِّس سَقَطِي رَحْمَةُاللہِ عَلَیْه د حضرت معروف کرخي رَحْمَةُاللہِ عَلَیْه مُرید او د حضرت جنید بغدادي رَحْمَةُاللہِ عَلَیْه استاذ او ماما وو-

(تذکرة الاولیاء، 246/1)

## د هغوئي پیشه

هغوئي به په ابتدا کښې "سَقَط (یعنې معمولي او واړه څیزونه)" خرڅول- (تذکرة الاولیاء، جز: 1، ص: 246) په دې مناسبت

سره هغوئي ته "سَقَطِي" وئيلے شي- نقل دي چې هغوئي به مال اخستو او خرڅولو او په هر لس ديناره مال باندې به ئې نيم دينار ګټه ساتله، که د دې نه زياته ګټه به چا ورکوله هم نو نه به ئې اخستله-

## ځوي ئې پوليس راپرېښودو (حکايت)

د حضرت ابو الحسن سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خدمت کښې يوه ګاونډئ حاضره شوه او عرض ئې اوکړو: اے ابو الحسنه! د شپې زما ځوي سپاهيانو نيولے دے او بوتلے ئې دے کيدے شي چې هغه ته تکليف اورسوي، مهرباني اوکړئ! زما د ځوي سفارش اوکړئ يا څوک زما سره اوليږئ- د ګاؤنډئ خبره ئې چې واوريدله نو هغوئي راپاڅيدل او په عاجزئ سره په لمونځ کښې مشغول شول- چې ښه ډير وخت تير شو نو هغې زنانه اووئيل: اے ابو الحسنه! زر کوئ! هسې نه چې حاکم زما ځوي چرته قيد نه کړي! هغوئي په لمونځ کښې مشغول وو، بيا ئې د سلام ګرځولو نه پس اوفرمائيل: "اے د الله پاک بندې! زه خو هم ستا معامله حل کووم-" لا دا خبرې کيدلې چې د هغې ګاؤنډئ خادِمه راغله او اوئې وئيل: بي بي جي! کور ته راشئ! ستاسو ځوي کور ته راغلے دے- د دې اوريدو سره هغه ګاؤنډئ ډيره خوشحاله شوه او هغوئي ته ئې دعاګانې اوکړې او د هلته نه رخصت شوه- (عيون الحکايات، ص: 164 ملخصاً) (عيون الحکايات (اردو) 266/1) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

قيديو! چاہو براءَت، تم پڑھو دل سے نماز دور ہو جائے گی آفت، تم پڑھو دل سے نماز

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ټولو بخښنه (حکايت)

يو ګس د هغوئي په جنازه کښې شرکت اوکړو، د شپې هغه هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په خوب کښې اوليدو او پوښتنه ئې ترينه اوکړه: مَا فَعَلَ اللهُ بِكَ يعنې الله پاک ستاسو سره څه معامله اوکړه؟ اوئې فرمائيل: الله پاک زه او زما په جنازه کښې شرکت کولو والا اوبخښل- هغه ګس پوښتنه اوکړه: حضور! زه هم ستاسو په جنازه کښې شريک ووم- هغوئي يو کاغذ را واخستو او په هغې کښې ئې اوکتل، خو د هغه نوم په نظر رانغلے، هغه عرض اوکړو: حضور! زه يقيناً حاضر شوے ووم، هغوئي چې بيا نظر اوکړو نو د هغه نوم ئې په حاشيه کښې ليکلے اوليدلو-

(تاريخِ دمشق، 198/20)

## هره ورځ زر رکعته نفل (حکایت)

هغوئي په خپل دُکان کښې يوه پرده لګولې وه د کومې شاته چې به ئې د تشريف وړلو سره هره ورځ زر رکعته نفل ادا کول-

(تذکرۃالاولیاء، جز: 1، ص: 246)

اے عاشقانِ اولياء! په دې حکايت کښې د هغه سوداګرو او ملازمانو د پاره د زده کولو بهترين مدني ګل موجود دے کوم چې خپل فارغ وخت په ګپونو، فضول خبرو او د موبائل په غلط استعمال کښې تيروي او بعضې ډلې خو د جَمعې لمونځ هم پريږدي د خپل ژوند قيمتي سعتونه په بے مقصده کارونو کښې د بربادولو نه بچ کړئ او وَزګار وخت د غنيمت ګڼلو سره چې څومره هم کيدے شي خپله ژبه په درودِ پاک، تسبيحاتو وغيره ذکر او اذکار لمده اوساتئ- که د څه لوستلو په ځائے خاموش اوسيدل مو زړه غواړي نو په دې کښې هم د ثواب ګټلو صورتونه شته، مثلاً د عِلمِ دِين په خبره کښې غور او فِکر شروع کړئ، يا د مرګ د جټکو، د قبر د تنهائيئ، د دې د وحشتونو او د محشر د خطرناکو سعتونو په سوچ کښې ډوب شئ، دغه شان به مو وخت نه ضائع کيږي بلکه يوه يوه ساه به مو په عبادت کښې اوشميرلے شي- اِنْ شَآءَالله

د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږ بے حسابه بخښنه وي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب     صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

اے عاشقانِ اولياء! د الله پاک د اوليائے کرامو دا طريقه راروانه ده چې هغوئي خلقو ته د وعظ او نصيحت په ذريعه مدني ګلونه وراندې کوي، يقيناً دغه نيکو هستيانو اسلامي تعليمات د دنيا په ګوټ ګوټ کښې په عام کولو کښې ډير اهم کردار ادا کړو- دا بزرګانِ دين به بعضې وخت پخپله د خلقو خوا له تلل او د هغوئي اصلاح او تربيت به ئې فرمائيلو او کله به خلق د دوئي د صحبت نه د فيض حاصلولو د پاره د دوئي په خدمت کښې حاضريدل او د دوئي ارشادات به ئې اوريدل او د خپلې اصلاح ذريعه به ئې جوړوله- ياد ساتئ د الله والوو په دې اقوالو کښې د قرآنِ کريم د آيتونو مبارکو او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حديثونو مبارکو خلاصه وي، د هغوئي د ژوند تجربې او مشاهدات وي، د هغوئي د خُلې نه په ادا شوو لفظونو کښې هغه اثر وي چې د بے لمانځو د لمونځ، د غافلو د بيدارئ، د جاهلانو د علم، د فاسقانو د تقوىٰ او د غير مسلمو د اسلام دولت نصيب کيږي-

(1): د بزرګانِ دين د ارشاداتو د اهميت په باره کښې حضرت بابا فريدُ الدِّين مسعود ګنج شکر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ارشاد

فرمائي: که چرې چا ته کامِل شيخ ميلاو نه شي نو هغه دې د اهلِ سلوک (اوليائے کرامو) کتابونه لولي او په هغې دې ځي- (راحت القلوب، ص: 15) (2): محبوبِ الٰہی حضرت خواجه نظامُ الدين اولياء رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه حضرت خواجه امير حسن علاء سنجري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته د نصيحت کولو سره ارشاد فرمائي: د مشائخو کتابونه او ارشادات کوم چې د سلوک په باب کښې فرمائي هغه د لوستلو د پاره کيښودل پکار دي- (فوائد الفواد، مجلس بست وهشتم، ص: 49) (3): محبوبِ الٰہی حضرت خواجه نظام الدين اولياء رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: کله چې ما د شيخُ الاسلام خواجه فريد الدين رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه لمن اونيوله نو ما اراده اوکړه چې څه هم د هغوئي د خلې نه اورم هغه به ليکم ځکه چې څه به مې هم د بابا فريد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه اوريدل ليکل به مې، کله چې به خپل د پاتې کيدو ځائے ته راتلم نو په کتاب کښې به مې ليکل د دې نه پس چې به مې هم څه اوريدل ليکل به مې تر دې چې ما دا خبره بابا فريد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ته اوکړه- د هغې نه پس چې به بابا فريد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه کله هم حکايت يا ارشاد فرمائيلو نو ما ته به ئې د حاضريدو حکم کولو او که زه به ناوخته راغلم نو هغه خبره به ئې بيا کوله-

(فوائد الفواد، مجلس بست وهشتم، ص: 49)

حضرت سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه هم وخت په وخت خپلو مريدانو او متعلقينو ته په خپل مجلس کښې په وعظ کښې په مختلفو موضوعاتو باندې مختلف مدني ګلونه ارشاد فرمائيلي دي، راځئ! په دې کښې د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه څه فرامين اورو:

## د سَري سَقَطِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ارشادات

(1): چا چې د الله سره محبت اوکړو هغه تَل ژوندے شو (يعني د هغه ذِکر به د خلقو په زړونو کښې هميشه وي-) او چا چې د دُنيا سره محبت اوکړو هغه رسوا شو-

(مکاشفة القلوب، ص: 264)

(2): بے وقوفه سحر او ماښام په ذلت او رسوائيئ کښې تيروي او عقلمند خپل عيبونه لټوي-

(مکاشفة القلوب، ص: 264)

(3): د آخرت د طلب يو خو طريقې: ❀ د نفلونو په ذريعه باندې د الله پاک محبوب کيدل ❀ د قرآنِ پاک (د ياد) سره زړه تړل ❀ د الله پاک په حکمونو باندې قائم اوسيدل ❀ د الله پاک حکم له ترجيح ورکول ❀ د هغه د ليدلو نه حيا کول (يعني هغه هر وخت ماويني) ❀ د هغه په خوښه کښې پوره کوشش کول ❀ په لږ رزق باندې رضا کيدل ❀ په نامعلومتيا [ګمنامئ] باندې قناعت کول-

(حلية الأولياء، 10/121، رقم: 14703)

(4): دا پينځه څيزونه چې په چا کښې وي هغه ډير بهادر دے: ❀ د الله پاک په حکم باندې داسې اِستقامت په کوم کښې چې هيڅ ټکي نه وي ❀ داسې کوشش د کوم سره چې هيرول نه وي ❀ داسې بيداري د کوم سره چې غفلت نه وي ❀ ځانله او د خلقو په مخکښې داسې مراقبۀ الهٰی (د الله پاک په لور داسې توجه) وي د کومې سره چې رياکاري نه وي او ❀ د مرګ د ياد سره د هغې تياري هم وي۔

(حلیة الأولیاء، 121/10، رقم: 14702)

(5): ما ته داسې لار معلومه ده کومه چې نيغه د جنت په لور بوځي؟ پوښتنه اوکړے شوه: ابو الحسنه! هغه کومه يوه لار ده؟ اوئې فرمائيل: تۀ د عبادت طرفته مخه کړه او صرف په دې کښې لګيا اوسه تر دې چې د دې نه علاوه دې څه کار پاتې نشي۔

(حلیة الأولیاء، 121/10، رقم: 14715)

(6): هغه لرې شو کوم چې د الله پاک نه د دوو څيزونو په وجه لرې شو او هغه نزدې شو کوم چې الله پاک ته په څلورو وجو نزدې شو۔ کوم چې د دوو څيزونو په وجه د الله پاک نه لرې شو هغه دوه څيزونه دا دي: ❀ د فرضو د ضائع کولو سره په نفلو کښې پريوتل ❀ د ظاهري اندامونو داسې عمل په کوم باندې چې د زړه رښتنولي نه وي۔ او هغه څلور څيزونه د کومو په سبب چې الله پاک ته نزدې کيږي هغه دا دي: ❀ د الله پاک دَر لازمي نيول ❀ عبادت ته ملا کلکه تړل ❀ په تکليفونو باندې صبر کول او ❀ د خپلې لوئيئ بيانولو نه بچ کيدل۔

(حلیة الأولیاء، 121/10، رقم: 14722)

(7): څوک چې د الله پاک په مُناجات کښې مشغول وي الله پاک هغه ته د خپل ذِکر خوږ والے او د شيطاني وسوسو تريخوالے عطا کوي۔

(حلیة الأولیاء، 121/10، رقم: 14734)

(8): پينځه څيزونه د ټولو نه بهترين دي: ❀ په ګناهونو باندې ژړيدل ❀ د عيبونو اِصلاح کول ❀ د ډيرو غيبو نه د خبر پروردګار اطاعت کول ❀ د زړونو نه زنګ لرې کول او ❀ خپل خواهشونه په ځان باندې نه د پاسه کول (يعنې په خواهشونو پسې د تللو نه بچ کيدل)۔

(حلیة الأولیاء، 128/10، رقم: 14749)

(9): پينځه څيزونه داسې دي د کومو په موجودتيا کښې چې په زړه کښې بَل يو څيز نه حصاريږي: ❀ هم د الله پاک نه ويره ساتل ❀ هم د الله پاک نه طمع لرل ❀ هم د الله پاک سره محبت ساتل ❀ هم د الله پاک نه حيا کول ❀ هم د الله پاک سره اُنسيت (محبت ساتل)۔

(حلیة الأولیاء، 128/10، رقم: 14749)

(10): حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه بيانوي چې حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه اوفرمائيل: ما ليدلي دي چې فائدې د شپې په تياره کښې (د عبادت کولو سره) ظاهرېږي- هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه چې به کله ما ته څه فائده رارسول غوښتل نو زما نه به ئې پوښتنه کوله- يوه ورځ ئې ما ته اوفرمائيل: شُکر څه دے؟ ما اووئيل: په نعمت کښې چې نافرماني اونکړے شي؟ اوئې فرمائيل: تا ډيره ښه خبره اوکړه او بهترين جواب دې راکړو-

(حلية الأولياء، 123/10، رقم: 14717)

(11): د صبر معنیٰ دا ده چې تهٔ د زمکې په شان شې کومې چې غرونه او انسانان اوچت کړي دي او زمکه د دې بوج نه نهٔ انکار کوي او نهٔ دا مصيبت ګڼي بلکه دې ته د خپل مولیٰ نعمت او عطا وائي-

(حلية الأولياء، 124/10، رقم: 14723)

(12): مهٔ د خلقو د پاره څه عمل کوه، مه د هغوئي د پاره څه پرېږده او مه د هغوئي د پاره څه څيز د لاسه اوباسه- حضرت جُنَيد بغدادي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د هغوئي د دې فرمان نه مُراد دا دے چې ستا ټول اعمال دې ټول په ټوله د الله پاک د پاره وي-

(حلية الأولياء، 130/10، رقم: 14758)

(13): زه هغه ته حيران يم کوم چې سحر او ماښام د ګټې د لټون د پاره ځي خو د خپل نفس په باره کښې چرې هم ګټه نه کوي-

(حلية الأولياء، 122/10، رقم: 14706)

(14): د نفس (د اصلاح) مصروفيت څه داسې دے کوم چې د خلقو نه پام بدلوي-

(حلية الأولياء، 122/10، رقم: 14709)

(15): د ټولو نه غټ طاقت دا دے چې تهٔ خپل نفس په قابو کښې اوساتې، څوک چې د خپل نفس اصلاح اونکړے شي هغه به د نورو اصلاح هم اونکړے شي-

(16): څوک چې د خپل ځان نه د بره والا اطاعت کوي نو لاندې والا هم د هغه اطاعت کوي-

(17): د خپل ورور سره د شک په بنياد باندې تعلق مه پرېږده او هغه رضا ساته-

د الله پاک د پيژندلو نخښه دا ده چې د الله حقونه ادا کول او څومره چې کيدے شي هغې له په خپل ذات باندې ترجيح ورکول-

(حلية الأولياء، 128/10، رقم: 14749)

(18): انسان تر هغه وخته پورې د تعریف قابل نه وي تر څو پورې چې هغه خپل دین له په خپلو خواهشونو باندې ترجیح ورنکړي او تر هغه وخته پورې نه هلاکیږي تر څو پورې چې خپل خواهش له په خپل دین باندې ترجیح ورنکړي-

(حلیة الأولیاء، 129/10، رقم: 14750)

(19): د پینځوو خبرو نه علاوه ټوله دنیا فضول ده: ❀ ډوډئ کومه چې ګیده مړه کړي ❀ اوبه کومې چې تنده ماته کړي ❀ کپړه کومه چې سَتر (شرم ګاه) پټه کړي ❀ کور په کوم کښې چې بنده اوسیږي او ❀ عِلمِ دِین کوم چې هغه استعمال کړي-

(حلیة الأولیاء، 123/10، رقم: 14719)

(20): د مخلوق نه د څه نۀ غوښتلو سره د دنیا نه د نفرت نوم زُهد دے-

(21): د دنیا طرف ته مه مائله کیږه ګني د الله پاک د طرف نه چې کومه رسئ [پړے] دے هغه به اوشلیږي او په زمکه باندې په تکبر سره مه ګرځه ډیر زر به زمکه ستا قبر وي-

(حلیة الأولیاء، 125/10، رقم: 14728)

(22): هغه په دهوکه کښې دے چا چې د خپل ژوند ورځې په لم لیټ کښې تیرې کړې او هغه هم په دهوکه کښې دے کوم چې د صالحینو د مقام آرمان کوي- (خو کوشش بالکل نه کوي-)

(حلیة الأولیاء، 122/10، رقم: 14710)

(23): د بنده ایمان تر هغه وخته پورې کامل نه وي تر څو چې په هغه کښې درې خصلتونه نه وي: ❀ کله چې هغه په غصه کښې وي نو د هغه غصه هغه د حق (خبرې) نه اونه باسي ❀ کله چې رضا وي د هغه خوشحالي هغه د څه ګناه په کار کښې اخته نه کړي ❀ کله چې (څوک) طاقتور وي نو هغه مال وانخلي کوم چې د هغه نه وي-

(شعب الأیمان، 320/6، حدیث: 8329)

(24): د الله پاک نه د ویریدونکو د پاره 10 څیزونه دي: ❀ غم راتلل ❀ د خفګان او غم غلبه ❀ بے قراره کوونکې ویره ❀ زیات ژړل ❀ شپه او ورځ سوالونه کول ❀ د راحت او آرام د څیزونو نه لرې تختیدل ❀ د بے قرارئ زیاتوالے ❀ د زړه ویریدل ❀ ژوند بے مزې کیدل ❀ د غم پټولو سره د هغې حفاظت کول-

(حلیة الأولیاء، 121/10، رقم: 14704)

(25): کاش چې د ټولې دنیا غم ما ته میلاو شي د پاره د دې چې ټول خلق د غمونو نه خلاصے بیامومي-

(26): خلق چې څومره په خپل اولاد باندې شفقت کوي که دومره شفقت ئې په خپلو څانونو باندې کولے نو

هغوئي ته به په انجام کښې خوشحالي ميلاويدلے۔

(حلية الأولياء، 122/10، رقم: 14707)

(27): د دې خبرې نه بچ اوسه چې ستا تعريف خور وي [يعني چې دومره مشهور شې چې خلق دې په هر ځائے کښې تعريف کوي] او عيب دې پټ وي۔

(حلية الأولياء، 122/10، رقم: 14713)

(28): حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُاللہِعَلَیۡه بيانوي چې سَري سَقَطِي رَحۡمَةُاللہِعَلَیۡه اوفرمائيل: ما ته داسې لنډه لاره معلومه ده کومه چې تا د جنت په لور بوځي؟ ما اووئيل: کومه يوه لاره ده؟ اوئې فرمائيل: مۀ تۀ د چا نه څه اخله، مۀ د چا نه څه غواړه او چې نه ستا سره چا له د ورکولو د پاره څه وي۔

(حلية الأولياء، 123/10، رقم: 14716)

(29): څلور څيزونه بنده لوړوي: ❁ عِلم ❁ ادب ❁ پاکوالے او ❁ امانت۔

(حلية الأولياء، 123/10، رقم: 14720)

(30): کوم کَس چې د داسې باطِني علم دعوىٰ اوکړي کوم چې ظاهري (شرعي) حکم ماتوي نو هغه غلطۍ کولو والا دے۔

(حلية الأولياء، 125/10، رقم: 14726)

(31): څوک چې الله پاک ته نزدې وي د هغوئي زړونه په تقديرِ الٰهی کښې فکر مند وي ولې د عامو نيکانو خلقو زړونه په خاتمه کښې لګيدلي وي۔ عام نيکان خلق وائي چې زمونږه خاتمه به څنګه وي؟ او مُقَرَّبِين (يعنې د الله پاک قرب حاصلوونکي) وائي: معلومه نه ده چې الله پاک به زمونږ د پاره څه فيصله فرمائيلې وي۔

(حلية الأولياء، 125/10، رقم: 14730)

(32): په عمل کښې خلوص ساتل تر دې چې عمل خالص شي دا د عمل نه هم زيات ګران دے او د عمل د خالص کيدو نه پس هغه بچ کول د عمل نه هم زيات ګران دے۔

(حلية الأولياء، 125/10، رقم: 14732)

(33): عمل د آفتونو نه بچ کول د عمل کولو نه هم زيات ګران دے۔

(حلية الأولياء، 126/10، رقم: 14733)

(34): دوستان جوړوه خو هغه خپل رازداران مه جوړوه، د بدو دوستانو نه بچ اوسه او لکه څنګه چې د خپل دښمن په باره کښې انديښنه لرې هم دغه شان د دوست په باره کښې هم ساته۔

(حلية الأولياء، 126/10، رقم: 14735)

(35): څوک چې (په نيکو کښې) د لم ليټ نه کار اخلي د قيامت په ورځ به ئې هغه ډير آرمان کوي۔

(حلية الأولياء، 126/10، رقم: 14737)

(36): د حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه نه پوښتنه اوکړے شوه: وَړو پاتې کيدونکو ته د لوږې نه څه ميلاويږي؟ اوئې فرمائيل: ګيډه مړوونکو ته د ګيډې مړولو سره څه ميلاويږي؟ وړو پاتې کيدونکو ته حکمت ميلاويږي او ګيډه مړوونکې د ګيډې مړولو سره د بد هضمئ سره مخ کيږي۔

(حلية الأولياء، 126/10، رقم: 14740)

(37): درې څيزونه د نيکانو خلقو د اخلاقو نه دي: ❀ د فرائضو ادا کول ❀ د حرامو کارونو نه بچ کيدل او ❀ غفلت نه کول۔

(38): درې څيزونه د نيکانو خلقو د اخلاقو نه داسې دي د کومو سره چې بنده د الله پاک رضا ته رسي: ❀ د اِستِغفار زياتوالے ❀ عاجزي او انکساري او ❀ زياتې صَدَقې۔

(حلية الأولياء، 127/10، رقم: 14743)

(39): څوک چې د نعمتونو په قدر باندې نه پوهيږي د هغه نه نعمتونه اخستلے کيږي او هغه ته پته هم نه لګي، (د صبر کولو سره) چې په چا باندې مصيبتونه کم شي هغه خپل ثواب جمع کړي۔

(حلية الأولياء، 128/10، رقم: 14746)

(40): خپله محتاجي الله پاک ته اوسپاره هغه به تا د خلقو نه بے پروا کړي۔

(حلية الأولياء، 128/10، رقم: 14747)

(41): اخلاق او عادتونه د عقل ترجمان دي، ستا ژبه ستا د زړه ترجمانه ده او ستا مخ ستا د زړه آئينه ده ځکه چې څه په زړه کښې پټ وي هغه د مخ نه ظاهريږي۔

(حلية الأولياء، 128/10، رقم: 14748)

(42): زړه د دريو په شان دے: ❀ د غر په شان مضبوط کوم چې هيڅ څيز نشي لړې کولے ❀ د کجورې د وَنې په شان د کومې جرړه چې په زمکه کښې قائمه ده او سيلئ هغه خوزوي ❀ د وَزَرې په شان کومه چې سيلئ اخوا ديخوا غورځوي۔

(حلية الأولياء، 128/10، رقم: 14749)

(43): بهترين رزق هغه دے کوم چې د پينځوو څيزونو نه محفوظ وي: ❀ په ګټلو کښې د ګناه نه ❀ په ذلت سره

او په سوال سره د غوښتلو نه ❁ په خپله پیشه کښې د ټګۍ نه ❁ د ګناه د آلو د پیسو نه او ❁ د حق وهلو د معاملې نه۔

(حلية الأولياء، 128/10، رقم: 14749)

(44): د شک والا څیزونو پرېښودونکے د شهوتونو (د بدو خواهشونو) نه د بچ کیدو طاقت لرلے شي۔

(حلية الأولياء، 129/10، رقم: 14754)

(45): څوک چې زما ذِکر په بدو سره اوکړي زه هغه معاف کووم البته زه به هغه نه معاف کووم څوک چې قصداً عمداً زما په باره کښې څه خبره اوکړي او هغه ته پته هم وي چې زما عمل د دې خلاف دے۔

(حلية الأولياء، 130/10، رقم: 14759)

(46): داسې خلق ډیر کم دي د چا په قول او فعل کښې چې فرق نه وي۔

(تذکرة الأولياء، 252/1)

(47): کوم کَس چې د نعمت قدر نه کوي هغه له به داسې زوال راځي چې هغه ته به ئې پته هم نه لګي۔

(تذکرة الأولياء، 252/1)

(48): حیا او اُنس (محبت) د زړه په وَر باندې راځي که په زړه کښې زُهد او پرهیزګاري موجوده بیامومي نو حصاریږي ګني نو واپس ځي۔

(تذکرة الأولياء، 252/1)

(49): هوښیار هغه دے کوم چې د قرآنِ پاک په رازونو باندې پوهیږي او په هغې کښې غور او فِکر کوي۔

(تذکرة الأولياء، 252/1)

(50): کوم کَس چې په مخلوق کښې ځان داسې ظاهر کړي څنګه چې هغه نه دے نو هغه د الله پاک په نظر کښې پریوځي۔

(شريف التواريخ، 512/1)

(51): طاقتور هغه دے کوم چې په خپل نفس باندې قابو بیامومي۔

(شريف التواريخ، 512/1)

(52): طاقتور هغه دے کوم چې په خپله غصه باندې غالب راشي۔

(شريف التواريخ، 512/1)

(53): د ګناه نه د بچ کيدو درې اسباب دي: د دوزخ نه د ويرې په وجه ❁ د جنت د شوق په وجه ❁ د الله پاک نه د حيا په وجه-

(تذكرة الاولياء، 253/1)

(54): څوک چې د الله پاک فرمانبرداره شي نو ټوله دنيا د هغه فرمانبرداره جوړه شي-

(تذكرة الاولياء، 252/1)

(55): خلقو ته د تکليف رسولو په ځائے د هغوئي د طرف نه په ميلاويدونکي تکليف باندې صبر کول ښه اخلاق دي-

(تذكرة الاولياء، 252/1)

(56): عبادتونو ته په خواهشونو باندې د ترجيح ورکولو سره انسان اوچتې مرتبې ته رسي-

(تذكرة الاولياء، 252/1)

(57): هغوئي رَحْمَةُاللہِ عَلَیْہ د وفات په وخت حضرت جنيد بغدادي رَحْمَةُاللہِ عَلَیْہ ته د نصيحت کولو سره اوفرمائيل چې "په مخلوق کښې د اوسيدو سره د خالق نه مۀ غافله کيږه-"

(تذكرة الاولياء، 254/1)

خپله محتاجي الله پاک ته اوسپاره هغه به تا د خلقو نه بے پروا کړي۔ (حلیة الاولیاء، 10/128، رقم: 14747)

څوک چې (په نیکو کښې) د لم لیټ نه کار اخلي د قیامت په ورځ به هغه ډیر آرمان کوي۔

(حلیة الاولیاء، 10/126، رقم: 14737)

څوک چې د الله پاک فرمانبردار وي نو توله دنیا د هغه فرمانبرداره جوړه شي۔ (تذکرة الاولیاء، 1/252)

مدني چینل

DAWAT-E-ISLAMI

عالمي مدني مرکز فیضان مدینه محله سوداگران پراڼي سبزي منډي کراچي
UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213
Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net